سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۱/۰۲/۲۵

# کشمیرکې د هند او پاکستان خونړی جګړې

## افغانستان کې اغیزې سریزه

لمړی برخه

د کشمیر هیواد نوم د توکمپوهنې له پلوه د لرغوني سانسیکریت له ژبې څخه اخیستل شوی دی. په تاریخي روایاتو کې » که »، په مانا د اوبه او » شمیره » په مانا د وچېشوې، دواړه ټکي داسې مانا ورکوي، په هغه هیواد کې چې اوبه وچېشوي دي. کشمیر د اسیا سویس دی. کشمیر پخوا د نړی د سیلانیانو جنت بلل کیدو، د کشمیر ښکلي سیمه ترننه دنړی د طبعیت تر ټولو له ښایسته سیمو څخه شمیرل کیږي. د کشمیر سیمه د همالیا د جګو غرو له جګو سیمو څخه ګڼل کیږي.

په وولسمه پیړی کې کله چې د هندوستان څخه د مغلو سترټواک نورالدین سلیم جهانګیر د کشمیر له دری څخه لیدنه کوله. هغه وویل، که چیرته د ځمکې پرمخ جنت وي، بیا نو هغه دلته دی، دلته دی، دلته دی. په ۱۶۲۷ کال د مغلو ستر ټواک د شاه جهان پلار کله چې دی په مرګ کې پروت وو، دده نه د ورستي هیلي پوښتنه وشوه، هغه د مرګ په ورستیو سلګیو کې وویل، کشمیر، کشمیر. انګریزي کولونیالیستو نیواکرو د کشمیر درې ته د نیکمرغي دره ویلي وو. نن د کشمیر دره د ویرې، وینې او ترهګري دره ګرځیدلي ده. د کشمیر په یوه برخه کې هندي پوځ او په بله برخه کې ګوریلایي خوځښتونه او د پاکستان پوځ د جګړې په حالت کې سره پراته دي. دوې دغه دره د یوې اوږدې خونړی جګړې ډګر ګرځولي. کشمیر د ځولسیزو څخه په منځني اسیا کې یوه جګړه یزه او د تاوتریخوالي څخه ډګه سیمه ګرځیدلي ده. د کشمیر کرکیچ او په سیمه کې کړکیچونه له یوبل سره مستقیم تړو لري. کشمیر له هند، چین، پاکستان او افغانستان سره ګډه پوله لري. د کشمیر یو په دریمه برخه د پاکستان په کنټرول کې د ازاد کشمیر په نامه ده. دکشمیر دوه په دریو برخه خاوره د هندترولکې لاندي ده، د جمو او کشمیر ایالت پلازمېنه سرینګر اکثریت وګړي مسلمانان دي. د کشمیر اکزي سیمه چې ۳۳۰۰۰ کیلومتر مساحت لري په ۱۹۶۰ کال کې دچینایانوله خوااشغال شوي ده. په همدې سیمه باندې بیا دچین او هند ترمنځ لانجه تر پوځي جګړو پوری هم رسیدلي ده. له همدې یرغلګرو ځواکونو له شتون سره د کشمیر هیواد لانجه نوره پیچلي او اوږده شوي ده .

د کشمیر دکړکیچ ګډونوالو د برتانوي هند له خپلواکي او ویش څخه را په دیخوادغه ښکلي هیواد یې له جنته په دوزخ بدل کړي دی. دغه سیمه له پنځوسو کالو څخه را په دیخوا په یوه دایمي جنګي حالت کې ده. نن دغه سیمه دا تومي توغندیو، بمومواو وسلو سره نوره ګواښمنه شوي ده. د نړی پر بام یا کشمیر کې له ډیره مودې څخه د هند او پاکستان دولتي تروریزم روان دی او بې ګناه کشمیریان یې هره ورځ قربانیان دي.

دکشمیر له کړکیچیني سیمې څخه هر ورځ د جګړیزو زړه بوګنوونکو خبرونه پای نه لیدل کیږي. کشمیر کې د کنټرول کرښې په دواړوغاړو کې د هند او پاکستان نیواکګرو ظالمانه او ناروا جګړې رواني دي.

د کشمیر لانجه او کړکیچ د کشمیریانو ترمنځه د کنټرول کرښې په سرلکه د ډیورنډ کرښه د پښتونو ترمنځه د انګریزانو د کولونیالیستي استعمار د توري امپراتوری زیږنده ده. کشمیریان هم د پښتنو په څیر د انګریزانو، هندوانو او پنجابیانو د خونړی تور استعمار لخوا په دوو برخو وویشل شوي دي.

### ۱ . د کشمیر هیواد او د سیمې لنډ تاریخ

له مسیحیت څخه۳۰۰۰ کاله مخکې لومړنی تمدن چې ژبه یې سانسکریټ وه، د هندیزم مذهب سره یوځای په کشمیر کې ځای پرځای شو.

له مسیحیت څخه۱۵۰۰ کاله مخکې کشمیر ته د اریایانو د ورتلو سره سم ډیر هندوان لمنځه ولاړل.

له مسیحیت څخه۲۰۰ کاله ورسته کشمیر کوشانیاني امپراتوری لاندې کړواو د بودیزم مذهب یې په کې خپورکړو.

په ۱۳۲۰ کال کې د کشمیر هیواد خپلواک دولت بنسټ کینودل شو.

په ۱۵۰۰ کال د اسلام مبارک دین د پښتنو افغانانو او مغلو امپراتوریو له خوا په کشمیرکې خپور شو.

د ۱۵۸۵ څخه تر ۱۵۸۷ د مغولو ستر ټواک جلال الدین محمد اکبر کشمیر یې د خپل امپراتوری تر کنټرول لاندې راوست.

په ۱۷۰۰ کال کې کشمیر ته لومړني انګریزي کورني د سوداګري لپاره راغلي .

په ۱۷۰۷ کې سلطان اوررنګ زیب د مغولو امپراتوری ته نوره وسعت ورکړو. د اوررنګ زیب له مرګه ورسته دغه امپراتوری د خپل پوځي او مالي ځواک له ارزښت سره سره لمنځه ولاړه .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۷۵۲ کال کې کشمير بيا د دراني پښتونو افغانانو د امپراتورۍ يوه برخه وګرځيده. هم مهال ټول نني پاکستان او هندوستان د افغانستان د ستري اسلامي امپراتورۍ سيمه ګرځيدلې وه.
کشمير تر ۱۸۰۹ کال د افغانستان يو ولايت وو. هندو او مسلمان د مذهبي توپير نو سره سره په يوه اسلامي دولت کې په سوليزه ډول د يوبل سره د زغم په کولتور کې ګډ ژوند کاوه.
په ۱۸۱۹ کال کې کشمير د رنجيټ سنګ له خوا اشغال شو. د رنجيټ سنګ خوري ګلاب سنګ د جمو او کشمير حکمراني د انګريزانو څخه د يونيم ميليونو امريکايي ډالرو په بدل کې ترلاسه کړه.
په ۱۸۴۵ کال کې ګلاب سنګ د کشمير ګورنر په توګه د پنجاب سيګانو دولت او د انګريزانو ترمنځه په لومړۍ جګړه کې برخه وانخيسته، دې بيا په دغه پوځې کړکيچ کې د انګريزي پوځونو مرکچن وټاکل شو.
په ۱۸۵۷ کال کې د ګلاب سنګ زوي رنبيرسنګ نوري سيمې لکه هنوز، ګيلګيټ، ناګر او لادکه د کشمير سره يوځاې کړې، د دغې نوي دولت نوم جمو او کشمير ونومول شو.
په ۱۹۰۶ کال کې سيد احمد خان د مسلم ليګ بنسټ کيښود، ده د انګريزانو څخه ديو اسلامي خپلواک کشميري دولت غوښتنه وکړه.
له ۱۹۲۵ کال څخه هري سنګ د رنبيرسنګ وراره د کشمير حکمران وو.
په ۱۹۳۱ کال کې د کشمير مسلمانانو د شيخ عبدالله په مشري پاڅون وکړ و.
په۱۹۵۱ کال کې د جمو او کشمير شاهزاده دولت د انګريزي کشميري اداري له خوا لمنځه لاړ.
په ۱۹۴۷ کال کې په پاکستان کې محمد علي جناح او په هند کې جواهرلعل نهرو ولسمشران او د نومړيو هيوادو بنسټ اښوودونکې ونومول شول.
په ۱۹۴۷کال کې تر څو چې د کشمير محاراجا پريکړه کوله، چې د هند يا له پاکستان سره يوځاې شي، پاکستانې جنګيالي کشمير ته ورننوتل. محاراجا پرکړه وکړه، چې د هند سره يوځاې کيږي او د هند پوځ څخه يې مرسته وغوښتله. له همدې سره د هند او پاکستان لومړۍ جګړه پيل شوه.
په ۱۹۴۹ کال د جنوري په لومړۍ نېټه د ملګرو ملتو په منځګړ توب دغه جګړه کې اوربند وشو. د کشمير يوه کوچنې برخه د پاکستان په کنټرول کې او لويه برخه د هند په ولکه کې ولويده. د هند د هغه مهال لومړۍ وزير جوهر لعل نهرو کشميريانو ته وعده وکړه چې يوه ټولپوښتنه به ددوی د راتلونکې برخليک وټاکې، دغه ټولپوښتنه تر نننه نه ده تر سره شوې.

د هند او پاکستان ترمنځ کړکيچ يو قومي او مذهبي کړکيچ دی. هند او پاکستان له قومي او مذهبي پلوه دوه بيل کولتورونه دي، دغه کړکيچ د هندوستان څخه د انګريزي کولونيال ځواک له وتلو څخه ورسته رامنځته شوي دی.
د هند د نيمې وچې زرکلن زوړ تاريخ له د ډول ډول کولتورنو او يرغلونوڅخه ډک تاريخ دی. په هند کې له مسيحيت څخه پنځمه پيړۍ مخکې هندويزم او بوديزم مذهبونو شتون درلود. په هند کې زموږ د اوسني تاريخ په لومړۍ پيړۍ کې د مسيحيت لومړني نښې نښانې را څرګندې شوې.
د ديارلسمي پيړۍ څخه را په ديخوا په هند کې د مغولو او افغان بادشاهانو امپراتوريو د اسلام سپيڅلې دين خپرو کړو. د هند په شمال لوديديځ کې بيا د سيګانو دلړکيو مذهب د پام وړ وو. د هند په نيمه وچه کې اروپايي کولونيال ځواکونه د پورتګال، فرانسې، هالند او ورستي نړيوال کولونيال ځواک انګريزانو شتون درلود.
د ۱۸۸۰ کالونو څخه را په ديخوا په هندوستان کې ورو ورو د خپلواکې ِغورځنګ راڅرګند شو. دا غورځنګ د هند د خپلواکې ملي کانګرس او مسلم ليک له خوا رهبري کيده.
په ۱۹۱۶ کال کې د هند د خپلواکې ملي کانګرس او مسلم ليک سره يوځاې شول، دوی په پيل کې د خپلواکه اداري غوښتنه د کامنوالټ هيوادو په څير لکه کاناډا او استراليا وکړه او ورسره د لکنهو تړون يې لاسليک کړو. په ۱۹۱۹ کال کې افغانستان په سيمه کې يوائينې هيواد وو، چې خپله خپلواکې له انګريزانوڅخه ترلاسه کړه. په ۱۹۲۰ کې مهاتما کرمچند ګاندي د لوی روح په نامه يادېدو، له سويلي افريقا څخه د خپلې ځانګړي سياسي فلسفی عدم تشدد سره هند ته راستون شو. دی د هند د خپلواکې د غورځنګ مشر وټاکل شو. ګاندي د هند ملي ګانګرس مشر په توګه هېڅ مهال له خپلي موخې څخه د يو خپلواک او څومذهبي هندوستان چې په هغه کې هندو او مسلمان په سوليزه ډول ژوند وکړي وانوښت.
د مسلم ليک مشر ورسته د پاکستان د دولت بنسټ ايښودونکې علي جناح هم په پيل کې د هندو او مسلمان د سياسي يوالي پلووي وو. جناح د خپلی موخې څخه هغه مهال په شا شو، کله چې د ده او ګاندي ترمنځ اختلاف رامنځته شو.
په ۱۹۴۰ کال کې مايوسه شوي علي جناح د دوو ملتونو تيوري اعلان کړه. په دغې تيوري کې راغلې وو، چې هندو او مسلمان دوو ملتونه دي، له همدې امله دوی بايد دوه ملي دولتونو رامنځته کړي. انګريزانو د دغې ويش ملاتړ وکړو او دعلي جناح تر شاو ودريدل. کله چې انګريزانو سيمه پريښوده، هغه مهال د کشميري شاهزاده دولت په اړه لکه د ډيورنډ کرښې په څير د انګريزانو لخوا هيڅ ډول برخليک ټاکوونکې پريکړه ونشوه.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

په ۱۹۴۰ کال کې کله چې علي جناح د لاهور ترون ولیکلو، ده په لومړی ځل د هندوستان ویش یې رسماً د دوو ملتونو په تیوري کې وړاندې کړو او د پاکستان د دولت نوم ابېځې یا الفبا له پنځو صوبوځخه جوړاووټا کل شو.
پ پنجاب، الف د افغانستان ولایت یا افغانیه، ک کشمیر، س سند او ورستي ستان د بلوچستان دی. ۱
په ۱۹۴۷ کال د جون په دریمه نېټه د انګریزانو د ویسراي مرستیال لورد مونت بتن په نامه د هندنیمې وچې د ویش پلان په دوو دولتونو کې د انګلستان د ولسي جرګې لخوا هم تصویب او اعلان شو.
د هند ملي کانګرس او مسلم لیک د غه پلان ومانو. د مونت بتن په پلان کې د پولو په اړه څه نه وو لیکل شوي. دا مهال په هندوستان کې ۵۰۰ کوچنې د شهزاده ګانو دولتونه یا کوچیني حکمرانې شتون درلود، د پلان له مخې دوی په خپله کولای شول، چې له هندوستان یاله پاکستان سره یوځای شي او په ځینو خاصو مواردوکې خپلواک پاتې کیداي هم شي. حیدرا اباد، میسوره، بوروده او کشمیر د شاهزاده ګانو دولتونه یا کوچنیوحکمرانیو د نویو دوو دولتونو هند او پاکستان سره یوځای کیدل ناشونې وو، دوی غوښتل چې ازاد پاتې شي. د جمو او کشمیر مشرانو په پیل کې د یو خپلواک کشمیري دولت د سویس هیواد ډول ته ډیرنږدې شوي وو. د کشمیر یواځني مسلمان اپوزیسیون د جمو او کشمیر ملي کانګرس هم د یو خپلواک کشمیر لپاره مبارزه کوله. د جمو او کشمیر ځانګړتوب په دې کې وو، چې کشمیر د هند او پاکستان د خاورې په منځ کې نه بلکې، کشمیر د افغانستان او چین هیوادو سره هم په ګاونډکې دی. ۲

۲ . دهند او پاکستان د کشمیر د ویش په سر لومړی جګړه .
په ۱۹۴۷کال د اوګست په ۱۴ پاکستان او ۱۵ نېټه هند دوه دولتونه اعلان شول. د اعلان ځخه یوه ورځ ورسته ددغو دووهیوادو پټې ساتل شوي پولې هم رسماً اعلان شوې. ویش ددواړو هیوادو د خلکو له شدید غبرګونو سره مخامخ شو. د برتانوي هند ټول مسلمان شمال لودیدیځ ولایات او ختیځ بنګله دېش پاکستان ته او نور ټول هندو اکثریت د هند سره یوځاي شي. د پولو له وستلو سره سم لس میلیونه خلک له یوهیواد ځخه بل هیواد ته په ډیر بد حالت کې کډوال شول. ۲
د پاکستان واکدارانو د جمو او کشمیر په مشرانو باندې ډیر فشار راوست، چې له پاکستان سره یوځاې شي او وعده یې ورسره وکړه، چې له جنګیالیو سره به د پاکستان پوځ پوځې مرسته وکړي تر څو درست کشمیر ته د جګړو لپاره ولیږدول شي. کله چې جنګیالیو د کشمیر یوه ستره برخه لاندې کړه او پلازمېنې سریناګر ته نږدې کیدل، هندې پوځ سمدستي په متقابل یرغلګرغبرګون لاس پورې کړو او یرغلګر یې د کشمیر له یوې برخې ځخه په شا وتمبول. هندوستان جمو او کشمیري دولت یې د خپل هندي اتحاد یوه برخه اعلان کړ ه . ۳
هم مهال پاکستان په مظفراباد کې د ازاد کشمیر دولت اعلان وکړ و. هند دغه شخړه د ملګروملتو امنیت شورا ته وړاندې کړه، د ملګرو ملتو امنیت شورا د هند او پاکستان په اړه د ۳۸، ۳۹ او ۴۷ مصوبې صادرې کړي. ۴
په ۱۹۴۹ کال د کراچې توافقلیک دغه نا اعلان شوي جګړه پای ته ورسوله. دغې توافقلیک د اوربند کرښه تعریف کړه او ملګرو ملتو د هند ځخه غوښتنه وکړه چې د کشمیر د اوربند کرښې په اړه یو ټولپوښتنه تر سره کړي. د هند او پاکستان ترمنځه یو ځل بیا د همدې کرښې په سر شخړه رامنځته شوه.
په ۱۹۵۳ کال د هند او پاکستان ترمنځ د سولې په اړه لومړنی دوه اړخیزه ناستې وشوي . ۵

۳ . د هند او پاکستان په کشمیر کې دوهمه جګړه
په ۱۹۶۲کال د اکتوبر په شلمه نېټه چینایي پوځ د کشمیر پر اکزي سیمه یرغل وکړو. پاکستان د هند په کمزورتیا پوه شو او د چین سره ملګري شو، ترڅو چې د ګډ دښمن سره یو ځاې وجنګیږي. هم مهاله پاکستان له امریکا ځخه وسله تر لاسه کړه او غوښتل یې چې دغه کړکیچ د وسله والې جګړي له لارې د شوبلو په یو برید کې هوار کړي. چین په دغه جګړه کې د پاکستان ملګرتیا ونه کړه. په ۱۹۶۵ کال د سپتامبر په شلمه د هند او پاکستان ترمنځ د ملګرو ملتو په فشار د اوربند ترون لاسلیک شو. په دې جګړه کې ایوب خان یوه سخته ماته ومنله. ۶
په ۱۹۶۶ کال د جنوري په لسمه نېټه پاکستاني او هندي هییتونو د روسانو په منځګړوتوب په تاشکند کې سره ولیدل . په پایله کې په دی جوړه راغله، چې هندي پوځونه باید د پاکستاني کشمیر ځخه ووځي او پاکستان به بیا داسي تیري نه کوي.

۴ . د هند او پاکستان دریمه جګړه
په ۱۹۷۱ کال کې د پاکستان د نوي صدراعظم یحیی خان په راتلو سره د هند او پاکستان اړیکې یوځل بیا ترینګلې شوې او د کشمیر دریمه جګړه پیل شوه. له همدي سره په ختیځ پاکستان کې د خلکو د خپلواکې هڅې ډیرې شوې. په ۱۹۷۱ کال د مارچ په شپږویشتمه شیخ موجیب الرحمان د بنګلادېش خپلواکې اعلان کړه. د پاکستان حکومت ډیره هڅه وکړه چې د بنګله دېش د خپلواکې مخه ونیسي، نږدې لس میلیونه بنګالي مسلمانان یې د خپل پوځې ترهګري له لارې ووژل. په میلیونو بنګالیان هند ته کدوال شول. د هند د هغه مهال صدراعظمه میرمن هندراګاندې دډیرو کدوالو د راتلو ځخه په اندیښنه کې شوه او هڅه یې وکړه، د نړۍ او امریکا له اغیزو ځخه کار واخلې، ترڅو پاکستان په بنګله دېش کې خپلو پوځې جنایاتو ته د پای ټکې کیږدي. کله چې دغوهڅو په پاکستان باندې کومه اغیزه ونه کړو.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۱۹۷۱ کال د دسامبر په دولسمه هند مجبور شو چي غبرګون وښايي او پاکستان ته يې د جګړي اعلان وکړو. هندي پوځ په يوه ضربتي جګړه کي د پاکستان د سمندري ځواک په مرسته وکولای شول، چي د پاکستان دهوايي ځواک ځلورمه برخه او د وسله وال پوځ دريمه برخه لمنځه يوسي.۷

د ۱۹۷۲ کال په پيل کي بنګله دېش رسماً د موجيب الرحمان په مشري د ډيرو هيوادو له خوا په رسميت وپيژندل شو. هند ورسته ورو ورو خپل پوځونه له نوي بنګله دېش څخه ويستل، هند د بنګله دېش له خپلواکي او د پاکستان څخه د بنګله دېش بيلتون ملاتړ وکړو. د پاکستان او هند ترمنځه ځلور وسله والي جګړې شوي، چي دري يې د جمو او کشمير او روستي جګړه په ۱۹۹۹ کال کي د کارګيل د سيمي په سر رامنځته شوي دي.

کشمير کي په دې ورستيو لسو کالونو کي اټکل له ۳۰۰۰۰ څخه ډير بې ګناه ملکيان وژل شوي دي او د ډيرو کشميريانو بشري حقوق يا وګړبنتي د هندي او پاکستاني پوځي بوټونو او ټوپونو لاندي شوي دي.

## ۵ . د پاکستان بهرني سياست د کشمير او افغانستان په اړه

د پاکستان له جوړيدو سره تر ننه دغه هيواد د خپلو دواړو ګاونديو هيوادنو هند او افغا نستان سره ترينګلي، زهرجني اړيکي لري. دا د خاوري نا حل شوي کړکيچ د هند سره د کشمير په سرله افغانستان سره د پښتون ولس د يوالي يا د پښتونستان مسلي په سر رامنځته شوي دی. افغانستان خپله پنځه زره کلنه خاوره له پاکستان څخه بيرته غواړي، چي انګريزي کولونيال ځواک له افغانستانه د لويې لوبي په ترڅ کي په زور او ناروا ډوګه بيله کړي وه. له همدي امله د پاکستان بهرني سياست له يو ستر کړکيچ سره مخامخ دی.

د ۱۹۵۰ کالونو څخه را په ديخوا د پاکستان پوځ د پاکستان د ملت جوړوني په پړوو نوکي يو مرکزي فکتور او ځواک ګرځيدلي دی. له همدې امله د پاکستان بهرني سياست د پوځ له خوا ټاکل کيږي. پاکستاني پوځ هند او افغانستان د ځان لپاره يو ستر ګواښ ګڼي. پاکستان ته ډيره ګرانه ده ، چي د خپلی بهرني سياسي ټګلاري دعملي کولو او اغيزمنتوب لپاره دا ورپکو د پياوړي و سلي د استعمال څخه لاس په سر شي.

کله چي په ۱۹۵۸ کال کي جنرال ايوب خان پوځي کودتا وکړه، پاکستان يو کارنيزيوني دولت ته وده وکړه. سره له دې چي په ۱۹۷۱ کال کي هندي پوځ د پاکستان پوځ ته د جګړي په ډګر کي سخته ماته ورکړه، د پاکستان پوځ کورني او وسله وال ځواک مات نشو. پاکستاني پوځ په پاکستان کي د هند سره د کشمير کړکيچ په سر خپل بهرني او کورني امنيتي سياست برلاسي وساتله.

په ۱۹۷۷ کال کي جنرال ضياءالحق د علي بوتهو په وړاندې پوځي کودتا وکړه. ضيا د خپل رژيم د مشروعيت خوړولو او پراخولو لپاره د پاکستان اسلاميزشن ټګلاره غوره کړه.

په همدې بهيرکي په ۱۹۷۹ کال پخواني شوروي اتحاد په افغانستان باندې پوځي يرغل وکړو، د پاکستان ای اس اې د امريکا څخه بې کچه پوځي مرستي ترلاسه کړي . تر څو افغان مجاهدين د شوروي اتحاد په وړاندې جګړي ته تيار کړي. دغو مرستو د ضياالحق اسلاميزشن ته نوره وده ورکړه. د پاکستان پوځ بهرني، کورني او امنيتي سياست خپلواکي په ډيرو برخو کي ليدل کيږي.

په ۱۹۷۱ کال کي پاکستان د خپلې پوځي ماتي په غبرګون کي اتومي پروګرام ته وده ورکړه . دا پلان د پاکستان پوځ يو خاص او پټ پروګرام وو.

په ۱۹۸۸ کال کي کله چي لومړي وزيرې بينظير بوتهو حکومتي چاري ترلاسه کړي . بينظير بوتهود پاکستان د اتومي پروګرام چاري مالومات له خپلو پوځي جنرالانو څخه نه بلکي د امريکايي چارواکو څخه ترلاسه کړل. د هند سره د کشمير کړکيچ ډيره موده په پاکستاني ټولنه کي د هويت يو خاص ځای درلود. له همدي سره په پاکستاني پوځ باندي د حکومت ستره بوديجه لګيږي، چي د روغتيا، ښووني او روزني ته دومره بوديجه نه ورکول کيږي. د پاکستان پوځ په اقتصادي او سياسي ډګر کي په دولت کي يو دولت دی. د پاکستان پوځ په سياسي، اقتصادي او ټوليز ډګر کي خپل ځواک څرګند کړي دی . پوځ د پاکستاني ټولني په ټولو برخو کي ځان نستلي دی. پوځ زراعتي ځمکي لري، پوځ فابريکي لري، په دغه چارو کي يو شمير پوځي افسرانو بوخت دي. د پاکستان د بهرني سياست يوه خاصه ځانګړ تيا په دې کي ده ،چي د هندا و افغانستان سياست په وړاندې د پاکستان پوځ د نا دولتي نيمه پوځي مليشو او وسله والو ډلو څخه د نومړو هيوادو په وړاندې کاراخيستل کيږي.

په ۴۸، ۱۹۴۷ کالونو کي د پاکستان پوځ افسرانو د کشميريانو په جګړه کي برخه واخيسته.

په ۱۹۶۵ کال پاکستان وسله والي مليشي دهندي کشمير په پاڅون کي ورګډي کړي. پنجابي پوځ او ای اس اې په دغه جګرو کي د ډيرو پښتنو ځوانانو د ځوري مذهبي احساساتو څخه ناوړه ګټه واخيسته او د ډيرو پښتونو پاکي ويني د خپلو تور پلانونو لپاره په کشمير کي بې ځايه تويی کړي. ځکه کشميريان اوس نه پاکستان او نه هندوستان غواړي.

د ضياءالحق په اسلاميزيشن ټګلاره کي پوځ او ای اس اې اسلامي ډلې يې په افغانستان کي د مجاهدينو مرستي ته واستولې، ترڅو چي د خپل بهرني سياست پلان شوي موخي ترلاسه کړي.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

په ۱۹۹۰ کالونو کې په افغانستان کې پاکستاني پوځیانو د طالبانو په بري کې لاس درلود. پاکستاني پوځیان همداوس له طالبانو سره د خپلو سیاسي ګټو او سیاسي موخو په وجه ملګرتیا لري.
د وسله والو طالبانو د غورځنګ سیاست د پاکستان او د اې اس اې تراغیزې لاندې سیاست دی، په افغانانو او بهرنیانو کې ډیرې اندیښني رامنځته کړي دي. ورسره د وسله والو طالبانو د مقاومت خپلواکې تر پوښتني لاندې راغلي ده. پنجابي پوځ او اې اس اې په خپل تور مخ باندې د اسلام دسپیڅلې دین سپین نقاب ایښودلې دی. د پاکستان پوځ د اسلام له سپڅلې دین څخه په خپل کورني سیاست کې هم تل ناوړه ګټې واخیستي، ترڅو له یوې خوا د خپل ناوړو دیکتاتوري رژیمونو مشروعیت ځواک نوره پیاوړي کړي او له بلې خوا په بهرني سیاست کې د پښتونو، بلوڅو او کشمیریانو له نشنلیستي پاکو احساساتو او یوالې مخه یې نیولې وي.
د یولسم د سپټمبر د پیښي سره سم د پاکستان بهرنې سیاست ستراتیجي د هند او افغانستان په اړه یوې سختي ضربي سره مخامخ شوه. پاکستان د امریکا د ګواښ له امله په څو ورځو کې د امریکا د ملګري په توګه د نړیوالې ترهګري په وړاندې ټلواله کې ودرید. پاکستان د نړیوالې ترهګري په وړاندې ټلواله کې د امریکا یو مهم ملګري شو.
د ۲۰۰۱ کال په نوامبر کې پرویز مشرف وویل، امریکا ته د طالبانو په اړه د تسلیمیدو سره، د پاکستان اصلي مرکزي انترس او سیاسي موخې د اتومي وسلو او د کشمیر کړکیچ په اړه وژغورلې شوې. پاکستان له پیدایښته په نړۍ کې د جبهو او کړکیچونو دولت پیژندل شوی دی. د هند سره په پوله د کشمیر لانجه له افغانستان سره د ډیورنډ لاین مسئله، چې تر اوسه پاکستان ونشوای کړی حل یې کړي. امریکایان د کشمیر په لانجه کې د هند او پاکستان لخوا د اتومي وسلو د استعمال ګواښ هم ویني. سیمه د اتومي جګړې له ستر ګواښ سره مخامخ ده.

## اخیځلیک :


(1).Vgl Gangul, Sumit (2001) Conflictunending India- Pakistan tensions since 1947, Aufl.New York Seite 10
Vgl. Wortlaut der Pakistan –Resolution/Lahore der All India Muslim League vom 04.03.1940

(2).Swami, Praveen 2007 Asian Security Studies: India, Pakistan and the secret Jihad the covert war in Kashmir 1947 -2004 1.Aufl.New York / London Seite 15
(3). Man , Michael 2007: Die Teilung Britisch-India 1947 Blutige Weg in die Unabhängigkeit

(4).Vereinte Nationen : Resolution 39 ,v.17.01.1948 v. 2001 , 1948, 47 v. 21.04.1948
The India-Pakistan Question

(5).Rothemund, Dietmar (2002 ) Kriesenherd Kaschmir Der Konflickt der Atommächte India und Pakistan
Ganguly, Sumit ( 2001 ) : Conflictunending India-Pakistan tension since 1947 , Oxford Universität Press Yew York Seite 16 .
(6).Lichtenthäler, Volker (2001): Der Kaschmirkonflikt. konflikte. Kaschmir Stand: [21.02.2002]
(7) . Eu, Geoffrey / Halliday, Tony (Hg.)(1990): Apa Guides - Pakistan. - München: RV Reise- und Verkehrsverlag. S.67 / 68
Kulke, Hermann / Rothermund, Dietmar (1982): Geschichte Indiens. - Stuttgart: Kohlhammer. S. 367 : „Bangladesh"


نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ